# افغانستان آزاد – آزاد افغانستان

**AA-AA**

چو کشور نباشد تن من مبـــــاد    بدین بوم و بر زنده یک تن مــــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم    از آن به که کشور به دشمن دهیم

www.afgazad.com    afgazad@gmail.com

| سیاسی | Political |
| --- | --- |



ليکوال او شنائد: نظرمحمد مطمئن


۱۱ می ۲۰۲۰

## د ټرون منل يې مجبوريت، ماتېدل يې زېره غواړي

خليلزاد وايي چې مذاکرات معامله ده، يو څه سړى ترلاسه کوي او څه له لاسه ورکوي. د امريکا – طالبانو مذاکراتو کې لاندي راکړې ورکړې وشوې:

الف: امريکا له طالبانو غوښتل چې القاعده او نورې اسلامپاله جنګيالۍ ډلې وغندي، مګر جوړ جاړی پر دي شو چې طالبان له القاعدې سره پرېکون اعلان کړي.

ب: طالبانو غوښتل چې بهرني پوځيان په ۳، ۶ او يا ۹ مياشتو کې ووځي، پرېکړه پر ۱۴ مياشتو وشوه.

ج: امريکا له طالبانو نږدې يو کال په اوربند چنې ووهلې، بالاخره د جګړې په کمښت جوړجاړی وشو.

د: طالبانو ويل تر څو له امريکا سره د مذاکراتو پايله معلومه نه شي، بين الافغاني مذاکرات نه کوي، مګر په ماسکو او دوحه کې يې مقدماتي بين الافغاني ناستې بالاخره ومنلې.

هـ : امريکا له طالبانو غوښتل چې د ټرون تر لاسليک وروسته، له افغان امنيتي ځواکونو سره دفاعي حالت ومني، مګر طالبانو د ولايتونو پر مرکزونو او لويو ښارونو، د لويو بريدو، نه کول ومنل.

ز: طالبانو نه غوښتل چې د ۵ زره بنديانو د خلاصون اړوند له افغان چارواکو سره مخامخ خبرې وکړي، بالاخره يې کابل ته پلاوی راوليږي، او دلته په ياده موضوع کې لېدنې وشوې.

ح: طالبانو غوښتل چې د امريکا-طالبانو د ټرون د عملي کېدو تضمين چين او روسيه وکړي، مګر جوړجاړی پر دي شو چې پرته له تضمين څخه ټرون لاسليک شي.

ط: طالبانو غوښتل چې له ټرون وروسته، په بشپړ ډول د امريکا هوايي بريدونه ودرول شي، مګر جوړجاړی پر دي شو، چې امريکا د افغان امنيتي پوځيانو څخه د دفاع لپاره هوايي حملې کولای شي.

امريکاياں د ټرونو ماتولو مخينه لري، دوی له روسيې، چين، جاپان، جرمني، فرانسې، ترکيې او ايران سره رسمي ټرونونه مات کړي، د نړيوال خونډي اقليم ټرون يې نه دی منلی، د ملګرو ملتونو له ډېرو ټرونو په شا شوې، او تر ټولو ډېر د ملګرو ملتونو ټرونونه د امريکا لخوا ويټو شوې. اوس چې ملګري ملتونه غواړي په ټوله نړۍ کې د کرونا ميکروب له کبله اوربند اعلان شي، امريکا يې نه مني.

له طالبانو سره د امریکا تړون، هم یي منل د امریکا مجبوریت دی، او هم یي ماتېدل زړه غواړي. امریکایان فکر کوي چې بالاخره به له طالبانو یو ځه ترلاسه کړي، چې په راتلونکي کې هم د دوی لاسونه له افغانستان ځخه وتلي نه وي.

د امریکا لپاره بله ستونزه دا شوه، له طالبانو سره د تړون له امله، د دوی او افغان امنیتي ځواکونو تر منځ هم بې باوري منځته راغلې، او کیدای شي په راتلونکي کې د افغان امنیتي ځواکونو لخوا هم ننګوني ورته زیاتي شي.

امریکایانو او افغان حکومت فکر کاوه چې د امریکا- طالبانو له تړون وروسته به د طالبانو جنګیالي له نورو وسلوالو ډلو سره یو ځای شي، او د طالبانو ضد جګړې به زور ومومي، مګر ولېدل شول چې له تړون وروسته د طالبانو وحدت لا زیات قوي او جګړو ته یې زور ورکړ، بلخوا هره ورځ افغان امنیتي ځواکونه له طالبانو سره یو ځای کیږي.

چین، روسیه او ایران هم دیته منتظر دي چې امریکا په افغانستان کې له لا زیاتو ستونزو سره مخ شي.

اروپایي ټولنه، کیدای شي د امریکا په خوښه به اوبه خړوي چې ماهیان په کې ونیسي، تر ډیره د افغانستان په قضیه کې یو طرفه عمل کوي، پداسي حال کې چې افغانان غواړي په راتلونکي کې له اروپایي هیوادو سره ښې اړیکې ولري. مګر د اروپایي ټولني اوسنی استازی رونالډ کوبیا له افغان ولس سره د ښو اړیکو جوړولو وړتیا ونه ښودله، ډیر ځله داسي ځرګندوني کوي چې د افغانستان د ولس په ګټه نه وي.

که د امریکا خوښه نه وای، ډاکټر عبدالله د موازي حکومت جوړېدل نه شوای کولای، او که د خلیلزاد خوښه وای، ډاکټر غني ولسمشر نه شوای اعلانېدای.

د امریکا سیاسي اداره "ولسمشر ټرمپ او مایک پمپیو" په افغانستان کې جګړه پای ته رسول، او پنتاګون + سي آی اې دا جګړه جاري ساتل غواړي. کټ مټ د روسانو د یرغل د تجربې تکرار دی، روسي جنرالانو په افغانستان کې پره جګړه ټینګار درلود، او د روسیي د هغه وخت ولسمشر ګوربچوف او بهرنیو چارو وزیر شوردنازي جګړه پای ته رسېدل غوښتل.

د ډاکټر نجیب الله وخت کې روسانو ډیره هڅه وکړه چې په هیواد کې عملاً دوه مرکزیته "کابل او مزار شریف" وي. د ډاکټر نجیب او ببرک کارمل په مشرۍ پرچم ډلو منلي وه، مګر خلقي مشرانو سید محمد ګلابزوی او شاه نواز تڼي یي مخالفت وکړ.

د خلیلزاد له وروستي مرکې ښکاري چې هیواد کې ۳ مرکزیته "شمال، جنوب او مرکزي افغانستان" وي. مګر دا کار ناشونی دی.

د ببرک کارمل او ډاکټر نجیب وخت کې دفاع وزارت او ملي امنیت له پرچم ډلي، کورنیو چارو وزارت چې هغه وخت یي له دفاع وزارت ځخه امکانات زیات و، خلقیانو ته ورکړل شوی و. د نجیب په لومړي وخت کې یاد دواړه وزارتونه له خلقیانو سره وو.

د ډاکټر غني او ډاکټر عبدالله په نوي معامله کې ویل کیږي چې دفاع وزارت به له ډاکټر غني او کورنیو چارو وزارت به له ډاکټر عبدالله، ملي امنیت کې ګماري به په مساوي ډول دواړه کوي.

روسانو له افغانستان ځخه تر وتلو مخکې د ۵ الی ۷ کلونو لپاره د هغه وخت افغان حکومت سره هر ډول نظامي، مالي، لوژیستکي او انساني مرستي وکړي، تر ځو کورنی جګړه دلته جاري وساتل شي.

امریکا/ناټو + اروپایي ټولنه هم غواړي، که بین الافغاني خبرې پایله نه ورکوي، نو دلته باید کورنی جګړه جاري وساتل شي.

زما په آند چې امریکایان له افغانستان څخه ووځي، که چیرته بین الافغاني مذاکرات پیل نه شي، نو بیا به ځیني بهرنۍ کړي، ځیني ګاونډې هیوادونه او ځیني کورنۍ کړۍ د افغانستان د ناارامه کېدو، سولې ته نه رسیدو او بالاخره د هیواد د ټوټه کېدو هڅې کوي.

په کار ده چې په هیواد کې تلپاتې سولې ته د رسیدو لپاره ښکېل اړخونه انعطاف وکړي، او هغوی چې یو باثباته او پر خپل ځان بسیا افغانستان ته ژمن وي، یو له بل سره لاسونه ورکړي، او په ښکېلو اړخونو فشار راوړي چې بین الافغاني مذاکرات پیل او پر همه شموله افغان نظام باندې توافق ته ورسیږي.